مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۳/۰۵/۱۵

# د ترکیې ټاکنې

## د سیاستوالو ایمانونه او فکرونه

اوس چې د ترکیې ټاکنې تر ترکانو تاسو ته مهمې دي، نو فکر پرې وکړئ:
که قلیچدار اوغلو یې وګټي د هېڅ مؤمن ترک له ایمانه به څه کم نهشي او که اردوغان یې وګټي، هېڅ بېایمانه ترک به مؤمن نهشي.

ترکیه د هرې بلې ټولنې په شان ګروهمن، بېګروهې، نظري یا عملي دینداران او بېدینه هستوګن لري.

ترکان راویښېدونکي او روښانېدونکي خلک دي، باور لرم، چې د دوی لپاره محاسبه د سیاسي مشرانو پر دیني تظاهر ولاړه نهده، ترکان د هر بل هوښیار ملت په شان دې ته ګوري، چې د کوم یوه په راتللو به یې په دسترخوان کې مثبت بدلون راشي.

زه ترکیه او ترکان څکه یوه اندازه ژور پېژنم، چې د ترکیې په پوهنتونونو او څېړنیزو مرکزونو کې مې په علمي غونډو کې ګډون کړی او د دوی له اکاډمیکو دریځونو مې ډېرڅه اورېدلي دي. ترکان د ترکیې نړیوال پرستیژ، اقتصادي ګټې او د هغو په سیوري کې د خپلو خلکو د انساني ژوند شرایطو ښه کېدل غواړي، پر نورو مسایلو فکر نهکوي. ترکیه د طبیعي سرچینو له اړخه بېوزلی هېواد دی، لوی عاید یې پوځي سکټور، ګرځندوی، د زینتي وسایلو، جامو او موبل و ودانیزو څیزونو تولید دی. د اروپا و اسیا ترمنځ د پول او لارې حیثیت یې هم له اقتصاد سره مرسته کوي، په ترکتوکمو هېوادونو او ملتونو کې یې د مشر لالا ځای ورخپل کړی دی او د پانتورکیسم په مټ هم خپل نړیوال دریځ بر ساتي.

د ترکیې ملت به پر همدغو بنسټونو پرېکړه کوي، له دوو سیالو نوملیو(کاندیدانو) هریوه چې د ترکانو دې غوښتنو ته علمي، مستدل، پرګماتیک او روښانه ځواب ورکړلای شو، هماغه به ګټونکی وي.

کلونه پخوا مې په یوه لویدیځ هېواد کې د ترکیې له یو استاد څېړونکی، چې په اکاډمیکو دوه درې غونډو کې مې لیدلی او اشنا شوی و، په دې اړه عجیبه خبره واورېده.

ویل: د ترکیې خلک نکیر و منکر پرېښتې نه دي، چې د خپلو سیاستوالو د ایمان پوښتنه وکړي، موږ ډوډۍ، اوبو او کار ته اړ یو، موږ د خپلو سیاستوالو ایمانونه نه، بلکې فکرونه یې تلو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ